مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

زمریال جهش ۲۰۱۸/۰۷/۱۱

د ولسمشر د ښکار پیل
د هېواد پالنې روحیه غښتلې کړې!

وروسته له هغې چې د ولسمشر لومړي مرستیال جنرال دوستم ځانګړی نماینده او په فاریاب کې د ملېشو قوماندان نظام الدین قیصاري، افغان امنیتي ځواکونو ته د توهین او ګواښ په تور لاس تړلی کابل ته راوستل شو؛ د قیصاري پلویانو او د جنبش ګوند او د افغانستان د نجات د ایتلاف غړو مظاهرې وکړې څو حکومت اړ کړي چې قیصاري له بنده خلاص کړي.
دا یواځې قیصاري نه دی چې د شخصي ملېشتو درلودو او حکومت ته د سرخوږي جوړولو په تور نیول کیږي، بلکې له دې سره هم مهال له ارزګان څخه رحیم الله، له بغلان څخه ملنګ خان، له فراه څخه حاجي داود او له بدخشان څخه درشاه کوفي هم د افغانستان کوماندو ځواکونو لاس تړلي کابل ته رسولي دي.
په داسې حال کې چې د قیصاري د نیول په غبرګون کې د جنبش، جمعیت او د افغانستان ژغورنې ایتلاف غړو او پلویانو یې مظاهرې وکړې او مرګ په حکومت شعارونه یې ورکړل، په ورته مهال د ولسمشر له لوري د شخصي ملېشو د قوماندانانو او زورواکانو نیول کیدل په ولس کې د پراخ هرکلي سره مخ شوي دي او د خلکو د هېوادپالنې رحیه ورسره غښتلې شوې ده؛ ځکه د خلکو له ولسمشر سره د مینې مانا له هېواد سره د مینې په مانا ده او همدا شان ټول ولس هیله ښیي چې د زورواکانو په نیولو او بندیانولو سره به نه یواځې د اړوندو ولایتونو امنیت ښه شي بلکې راتلونکې انتخابات به هم د امنیت په فضا کې ترسره شي.
په ورته مهال خلک له حکومت څخه غوښتنه کوي چې د زورواکانو او د نامسوله وسله والو د نیولو لړۍ ته دې ادامه ورکړي. دوی له حکومت څخه غواړي چې یواځې په شمالي او جنوبي ولایتونو بسنه ونه کړي بلکې د هیواد ټولو ولایتونو ته دې دا لړۍ وغځوي. تېره ورځ د هرات ولایت اوسیدونکو هم د حکومت له لوري د شخصي ملېشو د قوماندانو او زورواکانو د نیولو اقدام د ملاتړ په ترڅ کې له حکومت څخه غوښتنه وکړه چې هرات ولایت ته دې هم مه وکړي او هغه زورواکان چې دلته په هرات کې اوسیږي، لاس تړلي کابل ته ورسوي او ولس دې له شره ورته خلاص کړي.
همداراز په ټولنیزه میډیا کې هم خلکو د ولسمشر غني لخوا د نامسوله وسله والو د نیولو د اقدام پراخ هرکلی کړی او هر یو یې د دوی په سیمه کې د ورته اقدام غوښتنه کړې ده. خو د دې تر څنګ چې د زورواکو او له قانونه په سرغړونې د تورنو کسانو په وړاندې د حکومت مبارزې څخه ولس په پراخه کچه هرکلی وکړ، د ځینو سیاسیونو او د هغوی چې په یو نو نه یو ډول له دغو زورواکانو او نامسوله وسله والو سره اړیکې لري ځینې اعتراضونه هم راپارولي دي. ښه بېلګې یې د ولسمشر لومړی مرستیال جنرال دوستم او په دولت کې ورپورې تړلي کسان، د بلخ پخوانی والي عطامحمد نور او ورپورې تړلي کسان، د افغانستان د ژغورنې ایتلاف غړي، په پارلمان کې د یادو کسانو پورې اړوند وکیلان او د مشرانو جرګې لومړی مرستیال محمد عالم ایزدیار یادولی شو.

ولې مخالفت؟

دغو کسانو په لومړیو کې د ولسمشر لخوا د نامسوله وسله والو د نیولو اقدام سره سخت توند غبرګون وښود، آن دا چې د ټاکنو د تحریم او د هېواد په شمال کې د کورنې جنګ د پېلیدو خبرداری یې ورکړ، خو کله چې یې د ولسمشر له یاد اقدام څخه د ولس هرکلی ولید نو اوس د ولس تېرایستلو په خاطر د ټولو فاسدینو او زورواکانو پر وړاندې په یو شان عملي کېدلو غوښتنې شروع کړې. دوی اوس حیران دي چې که د ولسمشر د یاد اقدام مخالفت کوي نو ولس

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ته يې اصلي څېره معلوميږي چې له غلو، غاصبينو، فاسدينو او زورواکانو سره يو لاس لري، او که ولسمشر پرېږدي چې د زورواکانو او مفسدينو د نيولو لړۍ ته دوام ورکړي نو يې هم سياسي بقا په خطر کې ده.
د زورواکانو د بادارانو د مخالفت دويم هدف دا دی چې دوی د ولس په منځ کې خپل تللی موقف بېرته ترلاسه کړي. دا چې راتلونکې ټاکنې راروانې دي او بل لور ته دغو زورواکانو د ولس پر مخ څه نه دي پرېښي، چا له بوډا سره جنسي زياتی کړی او په ولس کې مختورن شوی، د چا د غلا سرمايې کنګل شوي، د امپراطورانو څخه موقف چې د اقتدار او حکومت سره د مخالفت وسيله يې وه؛ له لاسه ورکړی او نور د ولس تر منځ ځای نه لري او چا هم د وکالت پر روان جريان کې د خپل سمت د خلکو پر سر معاملې وهلې او په ولس کې يې موقف د لاسه ورکړی، او د دې لپاره چې له قومي ادرسه بېرته ځان مطرح کړي؛ ولس ته داسې ښيي چې ګويا غني قومي برخورد کوي او په حکومت کې يې د دوی برخه کمه کړې. دغه ډلې اوس له دې طريقه غواړي چې ولس بېرته په ځان راټول او په راتلونکو ټاکنو کې سر له اوسه ځان ته ځای پيدا کړي.

ولې حکومت ناوخته مبارزه پيل کړه؟

ځينې خلک بيا د ولسمشر غني لخوا د زورواکو او له قانونه په سرغړوني د تورنو کسانو پر وړاندې اوسنۍ مبارزې ته هم د شک په سترګه ګوري او وايي حکومت ناوخته د زورواکو او له قانونه په سرغړوني تورنو کسانو پر وړاندې مبارزه شروع کړه. زه ورته وايم چې ماهي که هر وخت له اوبو اوباسې نو تازه وي. اوس هم سرې وخت دی چې زورواکان بايد د خپل جرم په سزا ورسيږي. دا چې حکومت هم په وروستيو کې دغې کار ته مخه کړې دليل يې د حکومت او ولس تر منځ زياتېدونکی واټن دی.
يعنې په وروستيو کې د هيواد په ډېرو ولايتونو په ځانګړې توګه په شمالي ولايتونو کې د حکومت پر خلاف د بغاوت ډېرې ناري وهل کيدلې او دغې چارې پر خلکو د حکومت تسلط کم کړی و، نو حکومت اړ و چې د دغې بې تسلطۍ مخه ونيسي او د ولس او حکومت تر منځ د واټن زياتېدو مخنيوی وکړي. په شمال کې د خودمختاره حکومتونو نغارې وډنګول شوې، په خوا کې ورسره دښمن له دغه فرصته پوره ګټه واخيستله او په ځينو ولايتونو کې يې پوستې په پرله پسې توګه سقوط کړلې چې دغې چارې پر حکومت د خلکو باور ته سخت زيان ورسولو. د همدې چارې د کنټرول لپاره ولسمشر غني اړ شو چې د ښکرورو ښکرې ماتې کړي او لاس تړلې يې کابل ته راولي. اوس له نورو شغالانو (هغوی چې د خودمختاره حکومت ناره يې وهله) او ورپورې اړوندو ګروپونو څخه يې لار ورکه ده چې کوم لور ته وتښتي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ